# دا يو شيطان دى چې خنزب ورته ويل کيږي، نو کله دې چې حس کړې، له هغه څخه په الله پناه وغواړه، او چپ لوري ته دې درې ځلې تو کړه

د عثمان بن ابی العاص رضی الله عنه څخه روایت دی چې: هغه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغی او وېې ویل: اې د الله رسوله، زما او زما د لمانځه او زما د قرائت تر منځه شیطان مداخله وکړه تر څو یې راباندې ګډود کړي، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «ذَاكَ شَيْطَانٌ يُقَالُ لَهُ خِنْزَبٌ، فَإِذَا أَحْسَسْتَهُ فَتَعَوَّذْ بِاللهِ مِنْهُ، وَاتْفُلْ عَلَى يَسَارِكَ ثَلَاثًا»، « دا يو شيطان دى چې خنزب ورته ويل کيږي، نو کله دې چې حس کړې، له هغه څخه په الله پناه وغواړه، او چپ لوري ته دې درې ځلې تو کړه»، وايي: دا کار مې وکړ، نو الله تعالی راڅخه لرې کړ.

[صحيح] [مسلم روايت کړی دی]

عثمان بن ابي العاص رضي الله عنه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغی او وېې ویل: اې د الله رسوله زما او زما د لمانځه تر منځه شیطان مانع ګرځېدلی دی، زه یې په لمانځه کې له خشوع او عاجز څخه منع کړی یم، او قراءت یې راباندې ګډوډ کړی، او په لمانځه کې یې شکي کړی یم. نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: دا هغه شیطان دی چې خنزب ورته ویل کیږي، که دا مو وموند او احساس مو کړ، نو الله تعالی دې ملاتړ وګرځوه، او په الله تعالی ترې پناه وغواړه او چپ لوري ته دې د لږو لاړو سره درې ځلې تو کړه، عثمان وويل: هغه څه مې وکړل چې رسول الله صلی الله علیه وسلم یې راته امر کړی، نو الله تعالی راڅخه لرې کړ.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/65105

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee